آصف بهاند

# د ځانګړيسبک خاوند شاعر

# مطیع‌الله تراب

# غمجنه مړینه

په ډېرې خواشینۍ سره خبر شوم چې د ځانګړي سبک خاوند شاعر مطیع‌الله تراب له ژوند، د ژوند له ناخوالو، ګران افغانستان سره مخه‌ښه وکړه او د تل له‌پاره له خپلې کورنۍ او مینه‌والو څخه جلا شو.

مورِ نه‌شو کولای چې د مطیع‌الله تراب د ژوند اړخونه او د ده د مړینې ویر په یوه مقاله یا یو کتاب کې بیان کړو. د تراب ژوند، شعرونه او غمجنه مړینه هر یو ځان‌ته جلا باب دی او جلا څېړنو او بحثونو ته اړتیا لري.

د ده د مړینې ناڅاپي خبر هک‌پک کړم، داسې چې د څه لیکلو توان یې هم رانه واخیست، ما ونه‌شو کړای چې د دې غمجنې پېښې په باب څه ولیکم. په اوسني فرهنګي بهیر کې د تراب صاحب شاعري او په ځانګړي ډول د ده د شعرونو لوستل، ګڼشمېر مینه‌وال لري. په اوسني ادبي بهیر کې د تراب صاحب د فرهنګي شخصیت د مهموالي او ځانګړې شاعرۍ په وجه ما پخوا یوه مقاله لیکلې او خپره کړې وه، اوس یې د ده د غمجنې مړینې په پار یوځل بیا خپروم.

آصف بهاند

**مطیع الله تراب،**

**د ډکو زړونو چیغه**

(په اوسني پښتو شعر کې یو نوی باب)

**«د نـړیوال الـزام په تـور باندې ککړ هم زه یم**

**عجیبه دا ده لا چې مړ هم زه یم، پړ هم زه یم»**

*********

**«جګړیز حل او سوله ایز حل یو کېدلای نه شي**

**لکه یـوه مـوزه کې دوه پـښې ځـایـدلای نـه شي»**

(مطیع الله تراب)



د پښتو اوسنۍ شاعرۍ په بڼ کې د جګړې له سونامۍ له را پیدا رنګارنګ ناخوالو سره، سره یو نیم داسې ګل را وغوړېږي، چې ډېرې تشې ډکې کړي او پر خزان وهلي بڼ باندې داسې پسرلي راولي چې د شعر هر بند یې د بدن او فکر ناروغ او دردمن بندونه رغوي، مات زړونه کوشیروي، په یوه شعر کې د یو پنډ تاریخي کتاب حقایق د هنر په ژبه بیانوي او پر غمځپلو او ماتو زړونو باندې د خزان په موسم کې شین او ګلورین پسرلی غوړوي.

د دې شاعرانو د لومړي کتار سرلاری مطیع الله تراب نومېږي. دی خپل شعرونه په هر محفل او پر هر دریځ باندې د کاغذ له مخې نه، بلکې د خپلې حافظې له چیپ نه په یوه داسې ځانګړي انداز سره وایي چې څه قوت یې د شعر په تورو او حقایقو کې او څه قوت د ده په ځانګړې دیکلمې او د ادا په طرز کې، چې دواړه سره یو ځای شي، نو اورېدونکی هک حیران کړي.

مطیع الله تراب د اوسني وخت د سیاسي او ټولنیزو جبرونو له ناخوالو څخه د زورېدلو ډکو زړونو هغه چیغه ده چې د استثنایي هنري کلماتو په قالب کې، ترخه تاریخي حقایق بیانوي او د یو ترخه ډک جام په ډول یې ټولو ته په مخ کې ږدي. دا چیغه په یوه ځانګړي هنري انداز سره یوازې د مطیع الله تراب له ستوني راوتلې او راوزي چې کېدای شي «د زمانې غږ» ورته وویل شي.

د ښاغلي مطیع الله تراب په باب خبرې، بحث او نور شعرونه یې بل وخت، د اوس له پاره یې دغه وروستی شعر تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

## **غـزل**

**د امـبـار، امـبـار غـمـونـو مـنـځ کـی سوځم**

**لـکـه خـس د تـنـورونـو مـنـځ کـی سوځم**

**لکـه جـوار د بټ په ګرمو شګو پـروت یم**

**تـاو د خپـلـو ارمـانـونـو مـنـځ کـی سوځم**

**د پرهـر په دود مي خوله په ویـنو سره ده**

**د ملهم، ملهم لاسونو منځ کي سوځم**

**په څلويښتو کي مې ډېر ډېرون راغی**
**د زلميو چنارونو منځ کي سوځم**

**د يعقوب د ميني تاو رانه وباسي**
**د يوسف غونډې د ورونو منځ کي سوځم**

**د هارون غونډې زوړند يمه له ژبې**
**زه د خپلو ګناهونو منځ کي سوځم**

**عنکبوت غونډې په خپلو لومو بند يم**
**د نري، نري تارونو منځ کي سوځم**

**لکه ونه وهل خورم له خپله لاسه**
**د تبرونو او ګواښونو منځ کي سوځم**

«هر پهلوان دلته يو خل د متو زور آزموي
چي هغه لاړ شي، بيا يي نور او بيا يي نور آزموي»

*****

«دلته سرماتی او غاښماتی بوچ مړوند پاتي دی
هر پهلوان دلته د سريښو ډنډ کي بند پاتي دی»

(مطيع الله تراب)

**د مطيع الله تراب لنډه پېژندنه:**

مطیع الله تراب په ۱۳۵۰ هـ ش کال د ننگرهار په خوږیانیو کې زیږېدلی دی. تراب د ښوونځي په څلورم ټولګي کې و چې د جګړې اور یې کلي کور ته ور ورسید او کوچنی تراب نا چاره له خپل کلي کور نه کډې او لېږد ته اړ شو. هماغه و چې له خپلې کورنۍ سره یې لکه د ډیری افغانانو په څېر پېښور ته مخه کړه او په بده بېره کې یې واړول.

پردي وطن او پردي چاپېریال د نورو زدکړو مجال ورنکړ. له بدلونونو وروسته وطن ته راستون شو، خو ناخوالې ورځ تر بلې ډېرېدې او تراب زړه او ذهن کې د داسې خبرو زړی پسې شینده چې دا دی نن یې تراب په جهر سره له خولې راباسي او د خپل وطن او خلکو روانې بد مرغی د ترخو واقعیتونو په ډول د شعر په داسې ژبه بیانوي چې د افغانستان او افغانانو د هر دوست او هر دښمن د زړه تل ته ورننوري او تاثیر پرې کوي.

له بده شامته چې زموږ د زماني دا اور ژبی شاعر د خپل ژوند د پرمخ بیولو له پاره اوس په فزیکي کارونو بوخت دی. د مطیع الله تراب ژوند اوس د یو عادي کارګر، د یو عادي سوټک وهونکي په ډول تېرېږي او د «پېښ» دنده ترسره کوي؛ خو شعر ته یې او فکر ته یې ټول خلک حیران او ګوته په غاښ دي.

ډېرى افغانان، په تېره ډېرى پښتانه، په ژوندیني خپل خدمتګاران او د کار خلک سم نه پېژني او سم درناوی او قدرداني یې نه کوي، وروسته له مرګه چې بیا ډېر ناوخته وي، د افسوسونو او خواشینیو لښکر ورپسې روانوي.

په دغسې اشخاصو کې یو مطیع الله تراب دی چې ځینې خلک یې په خبرو کې سرتاج ګڼي، خو په عملي ډول په خاورو کې پروت لعل دی. ښه به دا وي چې په ژوندیني د تراب درناوی او قدرداني وشي، له معنوي پلوه یاد او له مادي اړخه یې لاسنیوی وشي.

د مطیع الله تراب په «سپین بغاوت» نومي ټولګه کې، ښاغلي عرفان الله شېرزاد، د تراب صاحب ډېره لنډه بیوګرافي لیکلې ده او د هغې په ترڅ کې یې د تراب صاحب د نورو شعري ټولګو یادونه هم کړې ده، په دې ډول:

**ــ غبار پر هینداره،**

**ــ للمي ګلونه،**

**ــ د کاڼي اوبه.**

د ښاغلي شیرزاد بشپړه لیکنه دا ده:

سپین مقوت | ۱۳۰

## د مطیع الله تراب بیوګرافي

ښاغلی مطیع الله تراب د نننۍ دور هغه ولسي او پېژندل شوی شاعر دی، چې د هېواد لوی او واړه یې له نوم او شاعرۍ سره اشنا دي.

مطیع الله تراب د ارواښاد مولوي رسول دوست زوی او د ارواښاد الله دوست لمسی له نن څخه ۴۶ کاله پخوا (۱۳۵۰) هـ ش کال د ننګرهار (همیشه بهار) ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د کوز بهار د کاله خېلو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې سترګې پرانستې.

تراب په ځلورم ټولګي کې و، چې ګران هېواد ته جګړو او کړکېچونو لاره راوکړه، دی هم لکه د نورو افغانانو په څېر له خپلې کورنۍ سره د خپل ګاونډي هېواد ته مهاجر او د پېښور په یوه تیره سیمه کې مېشت او بیا یې له هغه ځایه کورمې صدې ته کوچ وکړ هجرت او غربت و چې مطیع الله تراب یې د تعلیم له عظیم نعمت څخه بې برخې کړو.

تراب صاحب په هېواد کې شته ستونزو ډېر ځوراوه، همدا علت و چې شاعرۍ یې پیل کړه تر دې دمه یې په زمانه پیمانه شاعري کړې او ځو چاپ شوي اثار هم لري لکه غبار پر هینداره، للمې ګلونه، د کاڼي اوبه، مطیع الله تراب او د هغه شاعري او تراب پېژندنه.

دا چې تراب صاحب پدې کتاب کې څه ډول شاعري کړې وروسته ددې کتاب تر لوستلو به پوه شئ.

ښاغلي مطیع الله تراب ته د کتاب د چاپولو مبارکي وایم او تاسو یې لوستلو ته رابولم.

په خورا پښتنه مینه

عرفان الله شېرزاد

د اوس له پاره ما ونه شوای کړی، پته ولګوم چې د ښاغلي تراب پاسنی ټولګې چې ښاغلي عرفان الله شیرزاد یادي کړي دي، چاپ شوې ټولګې دي، که ناچاپ. زه د تراب صاحب د ژوند او ادبي فعالیتونو په باب خپلو څېړنو ته دوام ورکوم، هر ډول نوي مالومات چې ما تر لاسه کړل له تاسو درنو لوستونکو سره به یې شریک کړم.

دلته به د مطیع الله تراب څو ټپیزې او څو بیتونونه د ده د کلام د بېلګې په ډول راواخلم:

زمـــا هـویت زمـــا هـېـواد یـــې
ته دې ژوندی وې ته دې ښاد وې
تـــــــر قـــیـــامـتـــه دې آزاد وې
زه دې بـربـاد، تـــه دې آبـاد وې

آ دې برباد شي چې څوک تا بربادوينه

*****

درلـه بـه ځان خاورې ايـرې کړم

هـېـواده! تـا بــه ګـل درې کړم

پــه دښـمـنـانــو بـــه نــارې کړم

زه بـــه يـې شـال ذرې ذرې کړم

څوک چې زما شړې ته واچوي لاسونه

*****

دعــا کــوه چـې ستـا پــه لار شم

زه د کـار څيـز بـه دې پـکـار شم

تـا سره ګـرځـم چـې هـوښيار شم

ستا لـه سر پـوښ ټـوپکه ځار شم

په اوږه ستا دې، کـړه زه له خياله ځمه

*****

مــلالــې زر پـــه وطــن کـېـښود

ايـوب لـښکـر پـه وطــن کـېـښود

مـا داسـې نـر پـه وطــن کـېـښود

جـانان مې سر پـه وطن کـېـښود

په تار د زلـفو به کـفن ورتــه ګنـدمه

*****

مـرې، خو په لار د پېغور نه ځې

دی خپل تاريخ ته مخ تور نه ځې

شور کوه مه، په شور څه نه ځې

پـښـتـون جنت تـه په زور نه ځي

خو په رضا تر دوزخو در سره ځينه

*****

ویده لـه ویـښه ګـټه نـه ده کړې

غوښې له سیخه ګټه نه ده کړې

مـا له سر ویـښه ګـټه نه ده کړې

تـا لـه تـاریـخـه ګـټه نـه ده کړې

پـه تـورخم مـا سره تـه ماچوه لاسونه

قـلـم کـاغـذ نـــه کـرونـدې تــه څـوک کـمـک راوړي

دلـتـه چې هـر څـوک راشي ځـانـسره ټـوپـک راوړي

*****

لا ویـنـي غـواړي، لا سـرو بـانـدې مـړه نـه شـولـه

دا د دوزخ کـومـه ټـوټـه ده چـې سـړه نـه شـوله

*****

لـه هغـه را چې شـي پـه سیـمـه کې یـو بـم چـاودلی

لـه ډیـره درده مـې دا زړه لـکـه غـنـم چـاودلی

(مطیع الله تراب)

**د مطیع الله تراب د فکر او فن په باب د ځینو قلموالو نظریات:**

په پیل کې د استاد سیستاني دا جملې:

**«...مقاله دیگری که از خواندن آن سخت لذت بردم، یادکرد کوتاهی از مطیع الله تراب شاعر آتشین کلام زبان پشتو است که نویسنده وی را (د ډکو زړونو چیغه) نامیده است وبعد یک قطعه شعر او را به خواننده گان پیشکش نموده است.**

**به نظرمن، مطیع الله تراب را نمیتوان در سخن یا کلام یا چند سطر و چند صفحه نوشته معرفی کرد، باید او را در هنگام دکلمه شعرهایش دید و درد ها و سوزها و گدازهایش را درک نمود. هیچ شنونده ای نیست که با شنیدن دکلمه شعر او، مویها بر روی بدنش راست نه ایستد.**

**تراب هنگام خواندن شعرش به دریای طوفانی ای میماند که امواج دکلمه های شعرش، شنوندگان را نیز با خود بردوش این امواج به سیر این طوفان می برد. من هرباری که او را درحال خواندن اشعارش در محفلی می بینم، بیدریغ خود را با طوفانی از درد و رنج و خشم مردمی توهین شده ومحکوم به مرگ و بی سر و بی سر پرست، روبرو می یابم که برای نجات شان از نابودی آنها را به بیداری و اتحاد دعوت میکند، ودلم میخواهد عمر باقی مانده ام را درقدمهای تراب نثارکنم. از خداوند برای این شاعر آتشین کلام و مبارز دلیر وطن طول عمر وسلامتی آرزومیکنم.»**

(کاندید اکادیمسین محمد اعظم سیستاني)

د تراب نوم او د تراب شعرونه په ډېرو ستېژونو باندې، په ځینو خولو کې او په ګڼو مجلسونو کې یادېږي او ګرځي راګرځي، ځوانانو په خپلو موبایلونو کې د تراب په خپل غږ کې، د تراب د شعرونو ویډیوګاني خوندي کړې دي او لکه د خوښې وړ موسیقي، هر وخت یې چې زړونه وغواړي اوري یې او ګوري یې، الهام ورنه اخلي او احساسات یې پارېږي.

ښايي د تراب د شعر د شکل او محتوی په هکله، د ده د شخصيت او افکارو په باب ډېرو خلکو په لیکلي او نا لیکلي بڼه خپل نظريات، په بېلابېلو ځايونو کې وړاندې کړي وي چې د ټولو راپیدا کول او خوندي کول ډېر ستونزمن دي. دلته به زه د اوس له پاره د مثال په ډول، د څو تنو مطرح فرهنګیانو نظريات راواخلم:

دقیق او پرکاره مؤرخ او د لوېې پوهې او حوصلې خاوند قلموال، کاندید اکادیمسین محمد اعظم سیستاني د تراب په باب په لنډو جملو کې ډېرې دقیقې نا ویل شوې خبرې کړېدي چې د افغان جرمن آنلاین پورتال د نظریاتو په پاڼه کې راغلي دي.

د یادونې وړ بولم چې استاد سیستاني دیادو جملو تر لیکلو پخوا هم څو ځلې په شفاهي ډول د مطیع الله تراب د شخصیت او شاعرۍ په باب خپل نیک نظریات له ما (آصف بهاند) سره شریک کړی وو، خو دا ځل یې د تراب په باب زما د همدې مقالې د لومړۍ برخې په خپرېدو سره، په لیکلې بڼه د ۲۰۱۸ ام کال د دسمبر ۲۳مه نېټه خپل دانشمندانه نظر داسې ولیکه:

«...مقاله دیگری که از خواندن آن سخت لذت بردم، یادکرد کوتاهی از مطیع الله تراب شاعر آتشین کلام زبان پشتو است که نویسنده وی را (د ډکو زړونو چیغه) نامیده است وبعد یک قطعه شعر او را به خوانندهگان پیشکش نموده است.

به نظرمن، مطیع الله تراب را نمیتوان در سخن یا کلام یا چند سطر و چند صفحه نوشته معرفی کرد، باید او را در هنگام دکلمه شعرهایش دید و درد ها و سوزها و گدازهایش را درک نمود. هیچ شنونده ای نیست که با شنیدن دکلمه شعر او، موی ها بر روی بدنش راست نه ایستد.

تراب هنگام خواندن شعرش به دریای طوفانی ای میماند که امواج دکلمه های شعرش، شنوندگان را نیز با خود بردوش این امواج به سیر این طوفان می برد. من هرباری که او را درحال خواندن اشعارش در محفلی می بینم، بیدریغ خود را با طوفانی از درد و رنج و خشم مردمی توهین شده ومحکوم به مرگ و بی سر و بی سر پرست، روبرو می یابم که برای نجات شان از نابودی آنها را به بیداری و اتحاد دعوت میکند،ودلم میخواهد عمر باقی مانده ام را درقدمهای تراب نثارکنم.ازخداوند برای این شاعر آتشین کلام و مبارز دلیر وطن طول عمر وسلامتی آرزومیکنم.»

سیستاني صاحب بیا همدا مطلب په لږ بدلون سره د ۲۰۱۸ ام کال پر ۲۵ مه نیټه په خپله فیسبوک پاڼه کې د تراب صاحب له یوې ویډیو سره مل کېښود چې لیکنې بشپړ متن یې دا دی:

«مطیع الله تراب شاعر آتشین کلام زبان پشتو که استاد آصف بهاند او را «د ډکو زړونو چیغه» نامیده است، یکی از نوابغ شعرای روزگار ما است.

مطیع الله تراب را نمیتوان درسخن، یا کلام یا چند سطر نوشته معرفی کرد، باید او را در هنگام دکلمه شعرهایش دید ودرد ها وسوزها وگدازهایش را درک نمود.

هیچ شنونده ای نیست که با شنیدن دکلمه شعر های او، متحسس نشود و مو براندامش راست نه ایستد. تراب هنگام خواندن شعرهایش که با فصاحت کلام و بیانی فصیح همراه است و بدون کاغذ از حافظهٔ خویش با حلاوتی خاص بیان میکند، به رود خروشان و طوفانی ای میماند که صدای با صلابتش، احساسات وطن دوستی وعدالت خواهی را قمچین میزند وعواطف حق طلبی وتحرک و بخود آمدن را در انسان زنده وشنونده را به وجد می اورد تا با فریاد موج آسابیش بردوش طوفان سوارگردد.

من هرباری که او را درحال خواندن اشعارش در محفلی می بینم، بیدریغ خود را با طوفانی از درد و رنج و خشم و طنز و طعنه به مردمی متفرق، توهین شده و محکوم به بمباردمان وسلب حقوق، روبرو می یابم که برای نجات شان از نابودی، فقر و دربدری؛ آنها را به بیداری و اتحاد دعوت میکند، دلم میخواهد عمر باقی مانده ام را درقدمهای تراب نثارکنم...»

دغه راز د سیستاني صاحب د پوست په کامنت کې ښاغلي قاسم باز هم د تراب په باب خپل نظر او سترګو لیدلی حال لیکلی و چې د ۲۰۱۸ کال د دسمبر په ۲۶ مه یې د افغان جرمن پورټال د نظریانو په پاڼې ته هم لیږلی و. د ښاغلي باز د نظر په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«... محترم استاد. زه خوږ ژبی حماسی او انقلابی شاعر ښاغلی مطیع الله تراب د جهاد له دورانه له نژدی پیژنم هاغه زما د ورونو او ورارو ډیر نژدی دوست او ملګری دی. مطیع الله تراب د نن ورځی شاعر نه دی هاغه د زخمی زړونو شاعر دی ده خپله شاعری او حیدری چیغی د جهاد له دورانه شروع کړی او تر اوسه یی دا سلسله په ډیره میرانه پر مخ بولی او وړیی. ښاغلی تراب خپله شاعری په ډیرو بدو اقتصادی شرایطو کښی بدون د ترس او لرز په پوره ایمانداری تر دی ځایه راورساوله، اوس زمونږ ایمانی وظیفه ده چی ددی خوږ ژبی شاعر قدردانی وکړو. دده کلام د واقعی افغانانو کلام دی، زه شخصاً جناب مطیع الله تراب د نن ورځی خوشحال خان ختک بولم ځکه چی دا یو یاغی او باغی شاعر دی. د ښاغلی مطیع الله تراب د کلام ځانګړتیا په دی کی ده چی دده هر شعر ځانته علیحده لذت شور او هیجان لری. زه که هرڅومره ددی حماسی انقلابی او یاغی شاعر په باره کښی ولیکم بیا هم د کمی احساس کوم. زما د جناب مطیع الله تراب ټول اشعار ډیر زیات خوښیږی...»

پوهاند ډوکتور محمد اسماعیل یون، د تراب په باب تر ټولو نورو قلموالو ډیر څه ویلي او لیکلي دي. ده د تراب د شعري ټولګې (سپین بغاوت) له پاره یوه مقدمه لیکلې، چې د دې سلسلې په بله برخه کې به خبرې پرې وشي، خو دلته د ښاغلي یون دغه لنډې جملې راواخلم چې ده د «سپین بغاوت» د مخکتنې په غونډه کې د تراب په باب د خپلې وینا په ترڅ کې ویلي دي:


> «تراب د خپلې ټولنې له منفي واقعیتونو پرده پورته کوي، پر هغو زورېږي او په خپل کلام کې داسې پیغامونه انتقالوي چې کېدای شي هغوی ته په پام سره د یادو ټولنیزو رنځونو د درملنې له پاره یوه نسخه وګڼل شي...»

د دې برخې د لا رنګینۍ له پاره د تراب د یو شعر څو بیتونه:

پـاره نـور څــومـره انـتظار دا سـتـا لــه پــاره وکړم

مـنـزلـــه نـــور ځـــومـــره مزل پر دغي لاره وکړم
د هـــغـــه را چـــي د دريـــاب ســـر تـــه ونـــه رسـېـدو
د ســر خـــوړلـــي انـــقـــلاب ســـرتـــه ونـــه رسـېـدو
قـلـم کـاغـذ نـه کـرونـدي تـه څـوک کـمـک راوړي
دلـتـه چې هـر څـوک راشي ځـانـسره تـوپـک راوړي
د دنـيـا لـوی بـشـر دوسـتـان وي خـو چـي دلـتـه راشي
حـاتـم طـايي نـوشـيـيـروان وي خـــو چـــي دلـتـه راشي
ترې چنگيز خان او منگول خان هلاکو خان جـوړ شي
يا رنجيت سنگ يا گوډ تيمور يا گرگين خان جـوړ شي
څـه خـپـلـه مـوږه سـرخـوړلي اتـل سر تـه نـاست يـو
نورو ته سيوري جوړوو په خپله لمر تـــه نـاست يـــو

ډلـــگی، ډلـــگی، جـبـهـه جـبـهـه، تـنـظـيـم تـنـظـيـم وطنه
پـه شـرق او غـرب شـمـال جـنـوب بانـدې تـقسيم وطنه
سل سره شـتـه ولـي د سـلـو ســرو ســر نـــه لـــري
دا وطـن زر لـــري مـلـــگـرو، خـو زرگـــر نـــه لـــري
لا ويـنـي غـواړي، لا ســرو بـانـدې مـړه نـــه شـولـه
دا د دوزخ کـــومـــه تـوتـــه ده چـــي ســـړه نـــه شوله
لـه هغـه را چي شـي پـــه سيـمـه کي يـو بـــم چاودلی
لـــه ډيـــره درده مـــي دا زړه لـــکـــه غـنـم چـاودلی
«سپين بغاوت» (د مطيع الله تراب د شعرونو ټولگه)




کابـلـه تـه د خپل ښـایست قـاتـلان نـه پـېـژني

په خپل وجـود کې د لستوني مـاران نه پېژني

کابـلـه زه نـور چـوپه خوله پاتي کېدلای نه شم

نور خپل وطن کې مهاجر ځانته ویلای نه شم

*****

د سیاست د زهـریله مارانو جنګ کې ښکېل یـو

لـه دې هـیـبـته مـو لـه خـولو نه راوتـلـي زړونه

چورلـکـي راغـللي غـدئ لـه کلي بیا تـاو شوي

حیران هر چا په دواړو لاسه کې نیـولي زړونه

د مقالې د دې برخې په پیل، د دې خبرې یادول ضروري دي چې: د مقالې په دریمه برخه کې د ښاغلي تراب په باب، ما د استاد سیستاني صاحب د خبرو دري متن را اخیستی و. دا زما تقصیر و چې د سیستاني صاحب په فیسبوک پاڼه کې مې د تراب صاحب په باب د دوی د خبرو پښتو متن ته پام نه و شوی. دا د ښاغلي تراب په باب د سیستاني صاحب د خبرو پښتو متن دی:

**« د پښتو اور ژبی شاعر، مطیع الله تراب !**

**مطیع الله تُراب چې استاد آصف بهاند په حقه «د ډکو زړونو چیغه» نومولی دی زموږ د عصر د شاعرانو یو له نوابغو څخه دی.**

**څوک نه شي کولای مطیع الله تراب په څو خبرو، کلام یا څو کرښو معرفي کړي، دی باید د خپلو اشعارو د دیکلیمو پر مهال ولیدل شي تر څو د دهٔ د کرېدلي زړه د تناکو سوز او ګداز باندې پوه شي.**

**هیڅ داسي اوریدونکی به ونه مومندل شي چې د تراب د شعر په اوریدلو ئـي احساس راونه پارېږي ان تر دې چې ویښتان ئـي پر ځان ونه درېږي. تراب د خپلو اشعارو د لوستلو پر مهال چې په خپل خوندور کلامي او بیاني فصاحت د اوریدونکي غوږونه تخنوي او له کاغذ پرته د خپلي حافظي په مټ خپل شعري احساس بیانوي، هغه ځپانده سیند ته ورته ښکاري چې د خپل غږ په صلابت غوارې د هیواد پالني او عدالت غوښتني احساسات په متروکو وهي او د انسان په وجود کې د حق غوښتني او په هوښ راتلني احساس په خوځښت راولي او اوریدونکی تر هغه ځایه لوړ بیایي چې غوارې خپله د ځپو او توفان پر اوږو سپور شي.**

**هر ځل چې زه ښاغلی تراب په کومي غونډه کې د خپلو اشعارو د لوستلو پر مهال وینم، نو ځان د متفرقو، په سپکو سپورو رټل سویو، په بمبارد د محکومو او له حقونو د بې برخه شویو کسانو د درد، رنځ، کړاو، خېښم، طنز او لغازو په منځ کې وینم چې له نابودی، فقر، او در په درۍ څخه ددوی د ژغورني لپاره ئـي بیداری او اتحاد ته رابولي، او تر دې کچې مې پاروي چې زړه مې غوارې خپل پاتي ژوند د تراب په ګامونو کې ځار کړم.»**

(اکادیمسین کاندید محمد اعظم سیستاني)

د تراب د شعرونو یوه ټولګه «سپین بغاوت» نومېږي. د دې مقالي (مطیع الله تراب، د ډکو زړونو چیغه، په پښتو اوسني شعر کې یو نوی باب) په دویمه برخه کې د ښاغلي عرفان الله شېرزاد په حواله ما (آصف بهاند) د تراب صاحب د «سپین بغاوت» او نورو شعري ټولګو په باب داسي لیکلي وو:

«د مطیع الله تراب په «سپین بغاوت» نومي ټولګه کې، ښاغلي عرفان الله شېرزاد، د تراب صاحب ډېره لنډه بیوګرافي لیکلي ده او د هغي په ترڅ کې یې د تراب صاحب د نورو شعري ټولګو یادونه هم کړې ده، په دې ډول:

ــ غبار پر هینداره،

ــ للمي ګلونه،

ــ د کاڼي اوبه.»

ما (آصف بهاند) یې تر اوسه پورې د نورو شعري ټولګو په باب څه نه دي لوستي او یوازې یې د «سپین بغاوت» په باب هغومره مالومات وړاندې کوم، چې له بېلابېلو منابعو نه مې تر لاسه کړی دی.

دلته د دې خبرې یادول هم اړین ګڼم چې لوستونکي دې د ښاغلي تراب «سپین بغاوت» له یو بل کتاب سره نه مغالته کوي چې د طالب مشرانو د معرفی له پاره د «د سپین کاروان سرلاري» په نامه خپور شوی دی.

د تراب صاحب د «سپین بغاوت» په پېل کې، د تراب د شعر او شاعرۍ په باب، د راغلو ځینو ښاغلو نظریات، زما د ځینو فرهنګ دوستو یارانو په مرسته تر ما پورې را رسېدلي دي، چې په هغو کې د تراب د شعر او شخصیت په هکله تر ټولو دقیقي او د حساب وړ خبرې د ښاغلي محمد اسمعیل یون خبرې دي. د ده د خبرو په یوه برخه کې داسي راغلي دي:

«... تراب هم د خپلي زماني یو سړی دی، یو بلبل دی، یو فریاد دی او یو غږ دی. دا غږ پر چا ښه لګي، پر چا بد لګي، خو تراب د حقیقت او واقعیت په لټه کې دی. لومړی خپل رب ته په سجود دی او بیا د هغه له مخلوق سره په جګړه دی چې د خپل خالق له حکمونو سرغړاوی کوي...

... پر خلکو د تراب کلام ځکه ښه لګېده چې تراب د خلکو د زړه خبره کوله، ده له هغه چا څخه پوښتنه کوله چې چا تري پوښتنه نه شوه کولای. د ده دا نظم: «داسي څوک شته چې دې راغلو نه پوښتنه وکړي؟»

د هر هېوادوال پر ژبه و... د تراب شاعري نه یوازې د ملي او وطني احساساتو څرګندویه ده، بلکي د ده شاعري د ژوند د نورو ټولنیزو او عاطفي خواوو انځورونه هم کوي...

د ده کلام اکثره د غزل او مقیدو نظمونو په کالبونو کې افاده کېږي. تراب خپله، خپل نظم په داسي ښکلي انداز کې لولي چې ځانګړی لذت او قوت لري او د ده خپل ستایل ګڼل کېږي... د تراب په کلام کې ولسي رنګ هم جوت دی،

ځینو ځایونو کي لهجوي تاثیرات هم ورڅخه څرګندېږي. په غزل کي هم پخي تجربې او په نظم کي هم. نظمونه یې پر عوامو او غزل یې پر خواصو خپل، خپل تاثیرات لري.

د تراب شاعري له دې کبله خلکو ته خوند ورکوي چي دی د دربار او سرکار مخالف دی، دا دربار او سرکار بیا له اولس سره مخالف دی او تر دې دمه یې له اولس سره پخلاینه نه ده شوې. تراب د ولس همدا درد او همدا پیغام په خپل کلام کي ځای کړی، نو ځکه ولس ته خوند ورکوي. د همدغي ځانګړتیا له مخي، تراب ته له درباره لرې، د ولسي شاعر خطاب کولای شو. تر هغه وخته چي تراب دا حالت په خپل کلام کي ساتي، نو د ولس په زړه کي به ځای لري او که خبره معکوس شوه، نو بیا به د تراب او ولس ترمنځ به همدومره واټن وي، لکه اوس چي د ولس او ولسمشر ترمنځ دی.» (سپین بغاوت، د مقدمې ۷ ــ ۱۱ ام مخ پوري)

د تراب صاحب په «سپین بغاوت» ټولګي کي د راغلو شعرونو ډېری بېلګې، تراب صاحب په خپله په مشاعرو او محفلونو کي، په خپل خاص انداز او سبک سره وړاندې کړې دي چي پر هر لیدونکي او اورېدونکي باندي ځانګړی تاثیر کوي.

کله چي د تراب شعرونه ولوستل شي یا واورېدل شي، دراک خلک په دې پوهېږي چي د تراب د شعر ژبه ډېره آهنګینه ده او د آهنګین شعر تاثیر تر عادي شعر څو چنده ډېر وي او بیا په کوم احساس او انداز یې چي دی په خپله اوروي او وړاندي کوي یې، شعر ته بل احساس او بله ژبه وربښي.

په «سپین بغاوت» کي د اوسني زماني ډېر ترخه حقایق د شعر په قالب کي د یوه تیره تیغ په ډول وړاندې شوي دي. د «سپین بغاوت» په مخکاته غونډه کي چي د «ملي تحریک» په نوښت جوړه شوې وه، ګڼو شاعرانو، فرهنګیانو او د تراب د شعر مینه والو ګډون کړی و. په دې غونډه کي ښاغلي اسمعیل یون هم خبرې کړي دي. ده د خپلو خبرو په ترڅ کي د تراب د یادې شعري ټولګي (سپین بغاوت) په باب داسي ویلي دي:

«تراب د خپلي ټولني له منفي واقعیتونو پرده پورته کوي، پر هغو زورېږي او په خپل کلام کي داسي پیغامونه انتقالوي، چي کېدای شي هغوی ته په پام سره د یادو ټولنیزو رنځونو د درملني له پاره یوه نسخه وګڼل شي...»

د دې برخي د پای له پاره مي د تراب دغه بیتونه غوره کړي دي:

چا پــه قـلـم چا پــه خـنـجـر بـانـدي وهـلي زړونه
چا پــه کـونـداغ چــا په ټـوپک باندې ویشتلي زړونه
پـه ګـوره مــرو زمـوږه زهـرو ته حاجت نه شته دی
مــوږه پـه یــو خــوږه خبـر بـــانــدي بـایللي زړونه
زمـا نـه دوه زړونـه ورک شـوي زمـا دوه بــچي وو
کـه چا وي چیـرته پر دې لار کي مــونـدلي زړونه
ګـټـه تـاوان و سر او مــال مــي وو پــه مـخکي ایـښي
پس لــه هغــي نــه موږ د دې خـلـکو ګټلي زړونه
چــورلـکي راغللي غدی لـه کلي بـیـا را تاو شوې
حـیـران هر چا پـــه دوارو لاسه کي نـیـولي زړونه
د سیاست د زهـریـلـه مـارانـو جـنـګ کي ښکېل یـو
لــه دې هیبـتـه مـو لــه خـولو نــه راوتلي زړونه

«بند به تر څو د خپل تقدیر په ځنځیرونو پروت یم

زه به تر کومه ستا پر پښنو او په لاسونو پروت یم

ته به تر کومه خپل ځان حق ما به نا حق بولي

زما اطاعت به د خپل ځان مسلم حق بولي

چي د مظلوم ځيري گريوان ته تار او ستن پاتي دي

څو محدود کسه دي چي دي خاوري ته ژمن پاتي دي»



تراب د جګړې د نسل هغه شاعر دی چې د اورونو له بټۍ راوتی دی او د شعر ژبه یې هم د اور په څېر تونده او سوځونکې ده، خو داسې مینه هم په کې نغښتې ده چې په امیدونو پورې نښتې ده، د وطن مینه او له خلکو سره مینه یو محروم، ځپل شوی او له هره اړخه تر فشار لاندې قوم د پوهولو او بیدارولو مینه.

د تراب ټول فکر، ذکر، قلم، ژبه او هر څه د خپل وطن حالاتو ته متوجه دي د افغاني ټولنې او په تېره د پښتنو د ژوند نیمګړتیاوو ته یې خپل کلام وقف کړی دی. تراب په ګل، بلبل، هجران، معشوقه او نورو هغو مفاهیمو کې نه دی راګیر لکه ځینې قلموالو او شاعرانو چې د خپلو تخلیقاتو مخ وراړولی دی.

د تراب مخاطبین درې ډلې خلک دي:

ـ ټول ولس، چې دوی ته تراب د تاریخ په رڼا کې، په وطن کې د روانو حالاتو نیمګړتیاوو ته په اشارې سره حقایق بیانوي،

ـ د ټولنې نوی نسل، چې تراب یې په حقایقو خبرول او راویښول غواړي،

ـ د وطن او خلکو دوښمنان چې د وطن تاریخ، جغرافیه او هر څه یې لیلام ته وړاندې کړې دي. هغه کسان یې مخاطبین دي چې د خپلو شخصي ګټو له پاره یې د وطن دوښمنانو ته مخه، خو وطن ته شا کړې ده. تراب هغوی ته وايي چې وطن د چا دی، څوک یې ساتنه او پالنه کوي او په پای کې به مختوري څوک وي.

د تراب په هر شعر کې تاريخي حقايقو ته په کتو سره ډېرو عمده ټولنيزو او سياسي نيمګړتياوو ته پام ساتل شوی دی او په خپل کوډګر قلم او هنر سره يې د تاريخ او سياست پنډ کتابونه په يوه ټوټه شعر کې په هنري ژبې سره بيان کړي وي.

تراب څنګه چې په ټولنه او سياست کې روان عيني ترخه حقايق په سحرګره ژبه انځوروي، په هماغسې سحرګر انداز سره يې داسې وړاندې کوي چې په نيغه د خپلو اورېدونکو په زړونو کې ورننوزي او ځانته ځای پيدا کوي. دا د ده د کلام او د ده د پيام هغه قوت دی چې په نورو شاعرانو کې ډېر لږ ليدل کېږي.

په اوسنی پښتو شاعرۍ کې حماسي ـ تغزلي رنګ په ګډه ليدل کېږي، خو د تراب په شعر کې حماسي، وطني او تاريخي رنګ ډېر غالب دی.

د تراب په شعر کې تر انځورونو، پيامونه ډېر د پام وړ او قوي دي. او دا پيامونه په داسې آهنګينه ژبه وړاندې کېږي چې پرې پوهېدل او منل يې اسانه کوي.

د تراب په شعرونو کې د شعار غاړه ډېره هسکه ده او دا شعارونه کله، کله پر ټولو لوستونکو، اورېدونکو او ليدونکو په تېره پر ځوانانو باندې تر حد زيات اثر ښندي او ان تر دې چې کېدای شي چې ځينې ځوانان غير قانوني کړنو ته وهڅوي.

د تراب کمال په دې کې دی چې ډېر اوږده او ترخه عيني واقعيتونه په نظم يا يوه غزل او کله، کله په يوه يا دوو بيتونو کې بيانوي او تر ټولو ښه دا چې حللاره هم ورته ښيي.

له شعر نه د اوسنی زماني غوښتنه داسې ده چې:

په شعر کې بايد د ژوند، پرمختګ په باب خبرې وشي. ټولنيزو ستونزو ته د حل لار وښودل شي. په شعر کې بايد د ژوند پيام نغښتی وي، نه د مرګ او تباهی. په شعر کې بايد د پرمختګ انساني پيامونه نغښتي وي، نه د وژلو او وينو تويولو، شاعر بايد د مينې او عاطفي استازی وي، نه د مرګ استازی. د شاعر په کلام کې بايد د ژوند هيلې سر را اوچت کړي، نه د مړينې.

او تراب هر کله دا کار کړی. د تراب کلام د ژوند زيری لري، ازغن به وي، خو د ازغيو په څنګ کې د حق ويلو او حق غوښتلو خواږه پيامونه هغه چا ته ورکوي چې په کلونو او عمرونو ـ عمرونو يې حق خوړل شوی او ورنه اخستل شوی.

تراب د يوه خاموش اکثريت داسې چيغه ده چې د هنر په جامه کې يې د دوست او دوښمن تر غوږو او سترګو رسولې ده، تراب په خپل شعر کې د حق غوښتني بيرق جګ کړی دی.

کوم توري چې تراب په خپل شعر کې کاروي، دا هماغه توري دي چې له اميرکروړه تر نن پوري ټولو شاعرانو کارولي دي. هر شاعر د خپل فکر په چج او غلبيل کې ښکته پورته او لاندې باندې کړيدي او بيا يې د شعر په نامه څنګ په څنګه ايښي دي؛ خو د همدې تورو او کلماتو په کارولو او سره پېيلو کې تراب داسې هنر کارولی دی چې په زړونو او فکرونو باندې منګولې خښوي، زړونه خپلوي او ټول خلک، په تېره ځوانان داسې هڅوي چې وينه يې په ځوښ راولي او...

تراب په طبعي ډول د تورو او کلماتو په سره څنګ په څنګ ايښودلو کې داسې ځانګړی «منحصر به فرد» استعداد لري چې په بل چا کې تر اوسه نه دی ليدل شوی.

**زه د تراب شعرونه او د تراب غږ د افغانستان د خلکو د ډکو زړونو چيغه ګڼم.**

په پای کې د تراب يو څو انتخابي بيتونه:

**بند به تر څو د خپل تقدير په ځنځيرونو پروت يم**

زه به تر کومه ستا پر پښو او په لاسونو پروت یم

ته به تر کومه خپل ځان حق ما به نا حق بولې

زما اطاعت به د خپل ځان مسلم حق بولې

چې د مظلوم ځېرې ګریوان ته تار او ستن پاتې دي

څو محدود کسه دي چې دې خاورې ته ژمن پاتې دي

*****

ویر واویلا او غمرازي په پښتو ژبه کیږي

میدان ګټل او سربازي په پښتو ژبه کیږي

پښتو ځرخي پوري ترلي او د دار ژبه شوه

پښتو فقط د جوالي او څوکیدار ژبه شوه

تګ و راتګ او خوشحالي په بله ژبه کیږي

طب اقتصاد انجینري په بله ژبه کیږي

پښتو آخر هم د مجبور وزیریستان ژبه شوه

پښتو په لوی لاس د مولا او طالب جان ژبه شوه



www.dawatmedia24.com